۱۰۱۲
شماره مرکز معلومات وزارت شهرسازی و اراضی

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی
Ministry of Urban Development and Land

# هفته نامه اراضی

ارگان نشراتی وزارت شهرسازی و اراضی - شماره ۱۰۷
هفته سوم ماه جوزا سال ۱۳۹۹

ceo@arazi.gov.af
info@arazi.gov.af
media@arazi.gov.af
land-water-sec@arazi.gov.af
1012@arazi.gov.af

www.mudl.gov.af
www.twitter.com/mudl_afg
www.facebook.com/mudl
www.flickr.com/mudl
www.youtube.com/mudl

## محترم محمود کرزی: د نویو ښارونو جوړونه، د هرات او جلال اباد ښارونو پراختیا او د املاکو اساس الکترونیکي کېدل زما درې اساسي لومړیتوبونه دي



ښار جوړولو او ځمکو سرپرست او نوماند وزیر محترم محمود کرزي د ښار جوړولو، مالي او اداري، کور جوړونې، ساختماني او ځمکوالۍ چارو تنظیم معینانو سره مل د وزارت په جوړښت کې له رییسانو، د برنامې او پروژې مشرانو او یو شمېر نورو کارکوونکو سره وکتل.

د کتنې په لومړي سر کې د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر محترم محمود کرزي ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د جلالتمآب جمهور رییس باور څخه یې مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې د حکومت لیدلوري سره سم ورسپارل شوي چارې به په سمه توګه ترسره کړي.

پاتی برخه دوم مخ....

## بیش از ۹۰ جریب زمین دولتی در ولسوالی کشک کهنه ولایت هرات استرداد شد

وزارت شهرسازی و اراضی به دوام استراد زمین های مغصوبه دولتی؛ اینبار ۹۹ جریب زمین دولتی را در ولسوالی کشک کهنه ولایت هرات از چنگ زورمندان محلی بیرون ساخت.

قطعه زمین استرداد شده از نوع بکر و بایر از چندین سال به این سو مورد استفاده شخصی غاصبان قرار داشت و اکنون وزارت شهرسازی و اراضی شرایط معقول و موثر استفاده از آنرا مساعد نموده است.

وزارت شهرسازی و اراضی تا کنون ۲۸۷۹۳ جریب زمین مغضوبه دولتی را در ولسوالی های مختلف ولایت هرات استرداد و به سرجمع ملکیت های دولتی بازگردانیده است.

## سرپرست وزیر شهرسازی و اراضی از مرکز دیزاین افغانستان بازدید به عمل آورد



محترم محمود کرزی، سرپرست و نامزد وزیر شهرسازی و اراضی به دوام بازدید از بخش‌های مختلف وزارت، از مرکز دیزاین افغانستان و سایر بخش‌های معینیت امور ساختمانی بازدید به عمل آورد.

در این بازدید، محترم سید نسیم خلیق معین امور ساختمانی وزارت شهرسازی و اراضی تمامی بخش‌های مرکز دیزاین افغانستان

بقیه ص۲ ......

## جوزجان ولایت کې له ۲۴۱ زره جریبو څخه زیاته دولتي ځمکه سروې او ثبت شوه

ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دولتي ځمکو د ثبت برنامې د تطبیق په لړ کې په جوجان ولایت کې ۲۴۱ زره ۲۴۵ جریبه ځمکه او دولتي املاک سروې او ثبت کړل.

له دې ډلې څخه په ۸۲ قطعو کې ۱۸۷ زره ۲۲۹ جریبه سپینه دولتي ځمکه او په ۱۷۲ قطعو کې ۵۴۰ زره ۱۲ جریبه د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه دي چې د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې موقعیت لري.

ښار جوړولو او ځمکو تر اوسه د هېواد په ۲۹ ولایتونو کې په ۲۲۸۹ قطعو کې ۵ میلیونه ۷۸۵ زره او ۵۳۷ جریبه ځمکه او دولتي املاک سروې، نښه او ثبت کړي دي.

## محترم محمود کرزی: د نویو ښارونو جوړونه، د هرات او جلال اباد ښارونو پراختیا او د املاکو اساس الکترونیکي کېدل زما درې اساسي لومړیتوبونه دي



محترم محمود کرزي دغه راز زیاته کړه چې خلک د عملي کار په تمه دي او د دي غوښتنې پر ځای کولو لپاره اړینه ده چې په اړوندو برخو کې بېروکراسي پای ته ورسیږي او تر ډېره پر عمل او له هغه د پایلې پر اخیستو ټینګار وشي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر په ټینګار سره وویل چې له دې وزارت څخه د خلکو تمې کچه لوړه ده، خو په ادارو کې بیا تر ډېره پورې د خلکو اړتیاوې او غوښتنې په پام کې نه نیول کیږي.
محترم محمود کرزي همدارنګه څرګنده کړه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لیدلوري سره سم د کابل نوي ښار جوړېدل، د جلال اباد او هرات منظمه پراختیا او د ټولو املاکو د اساس الکترونیکي کېدل یې درې بنسټیز لومړیتوبونو دي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر وویل، د نویو ښارګوټو جوړېدو اساسي موخې او سنیو ښارونو کې د نفوسو کمېدل او د معیاري عامه خدمتونو وړاندې کول دي.
محترم محمود کرزي د خپلو خبرو په دوام وویل، د ښارګوټو په جوړونې کې به له کورنیو ظرفیتونو ګټه پورته شي. نوموړي همدا راز وویل، ښاري سکټور اړوندو ادارو په ځانګړې توګه ښاروالي ګانو سره به په ګډه او پور همغږۍ او سنیو ښاري ستونزو ته رسېدنه وشي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر ټولو کارکوونکو ته په خطاب وویل، د دفتري اصولو جدي رعایت او د چارو پر وخت او ښه ترسراوي او د کاري چاپېریال ډسپلین ته پاملرنه دې خپل لومړیتوبونه وبولي.
محترم محمود کرزي وویل، ښار جوړولو او ځمکو وزارت به تر دې وروسته په ټولو برخو کې په یوه عملي وزارت بدل شي.
د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر په پای کې یو وار بیا له ټولو کارکوونکو څخه په منني د ګډ کار او د چارو په ترسراوي کې د پوه ژمنتیا ډاډ ورکړ

## ساختمان کمپلکس اداری ولسوالی ځمکنی ولایت پکتیا اعمار و به بهره برداری سپرده شد

وزارت شهرسازی و اراضی، کار عمرانی مجتمع اداری ولسوالی ځمکنی ولایت پکتیا را از طریق برنامه ملی تحکیم ثبات تکمیل و مورد بهره برداری قرار دارد.

این تعمیر اداری در مساحت ۴۹۰ متر مربع زمین در سه منزل دارای ۱۷ دفتر کاری، یک اتاق مجلس، یک آشپزخانه، یک گدام و ۹ باب تشناب عصری به هزینه ۱۷ ملیون و ۹۶۲ هزار افغانی اعمار شده است.





## سرپرست وزیر شهرسازی و اراضی از مرکز دیزاین افغانستان بازدید به عمل آورد



و همچنان بخش‌های معینیت یادشده را به معرفی گرفت.
در ادامه محترم محمود کرزی سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی گفت، ایجاد شهر جدید کابل واقع ده سبز، انکشاف و توسعهٔ معیاری و منظم شهرهای هرات و جلال آباد و ایجاد دیتابیس و اساس الکترونیکی املاک به سطح کشور سه اولویت عمدهٔ کاری‌اش می‌باشد.
سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی در ادامه اضافه نمود که مسکن از نیازهای اساسی مردم بوده و وزارت شهرسازی و اراضی در ساختار وظایفی که دارد، پاسخگوی این تقاضای بازار خواهد بود.
محترم محمود کرزی همچنان به بخش‌های مربوطه هدایت داد که هرچه زودتر تجهیزات مورد نیاز را تدارک دیده و کمبودات را رفع نمایند.
سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی در اخیر از همه کارمندان خواست تا وظایف شان را به وجه احسن به پیش برده و همچنان از حمایت خویش در عرصهٔ انجام امور رسمی به آنان اطمینان داد.

## لوګر ولایت کې له ۲۰۰ زره جریبو څخه زیاته دولتي ځمکه سروې او ثبت شوه

ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دولتي ځمکو د ثبت برنامې د تطبیق په لړ کې په لوګر ولایت کې ۲۱۴ زره ۸۳ جریبه ځمکه او دولتي املاک سروې او ثبت کړل.
له دې ډلې څخه په ۷۷ قطعو کې ۲۰۴ زره ۹۷۳ جریبه سپینه دولتي ځمکه او په ۱۵۵ قطعو کې ۹۱۱۰ جریبه د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه دي چې د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې موقعیت لري.
ښار جوړولو او ځمکو تر اوسه د هېواد په ۲۹ ولایتونو کې په ۲۲۸۹ قطعو کې ۵ میلیونه ۷۸۵ زره او ۵۳۷ جریبه ځمکه او دولتي املاک سروې، نښه او ثبت کړي دي.



# مسوده پلان چهارچوب انکشاف استراتیژیک شهر هرات (SDF) نهایی شد



در جلسهٔ به ریاست محترم روښان ولسمل، معین شهرسازی وزارت شهرسازی و اراضی و اشتراک محترم غلام حضرت مشفق شاروال هرات، رئیس شهرسازی هرات و سایر مسوولان ولایتی، مسوولان پروژه انکشاف شهرها با حمایت بانک جهانی در تالار نشست‌های وزارت شهرسازی و اراضی برگزار گردید.

در آغاز جلسه، محترم روښان ولسمل، معین شهرسازی وزارت شهرسازی و اراضی ضمن خوش‌آمدید به اشتراک کننده‌گان جلسه گفت، چهارچوب انکشاف استراتیژیک (SDF) برای شهرهای هرات، مزارشریف، خوست، جلال‌آباد و قندهار با حمایت بانک جهانی از برنامه‌های نهایت حیاتی وزارت شهرسازی و اراضی می‌باشد.

معین شهرسازی وزارت شهرسازی و اراضی همچنان بیان داشت که کار روی چهارچوب‌های انکشاف استراتیژیک پنج شهر یادشده یک سال پیش آغاز و اکنون در مرحله نتیجه گیری قرار دارد. محترم روښان ولسمل در ادامه خاطر نشان ساخت که چهارچوب انکشاف استراتیژیک شهرها در پنج مرحله تهیه می‌گردد و در جلسه امروزی تمامی بخش‌های چهارچوب انکشاف استراتیژیک شهر هرات جهت دریافت پیشنهادات مسوولان ولایتی به منظور غنامندی هرچه بیشتر آن ارایه می‌گردد.

معین شهرسازی همچنان بیان داشت که چهارچوب انکشاف استراتیژیک شهر هرات روی حفظ آبدات تاریخی، توریزم، رشد اقتصادی و زراعتی و اتصالات منطقوی متمرکز است.

متعاقباً محترم غلام حضرت شفق شاروال هرات گفت، هرات با آنکه از شهرهای بزرگ است، اما فاقد پلان بوده و ترتیب چهارچوب انکشاف استراتیژیک برای آن موثر واقع می‌شود.

سپس مسوول پروژه انکشاف شهرها در ساختار وزارت شهرسازی و اراضی ضمن تشریح (SDF) هرات، یادآور شد که برای هر شهر پنج نقطه انکشاف در نظر گرفته شده است.

قرار است مسوده پلان چهابچوب انکشاف استراتیژیک پنج شهر به شمول هرات، با کمپنی امریکایی موسوم به ساساکی جمع پیشنهادات دریافتی ارسال و در آینده نزدیک پلان نهایی آن دوباره دریافت خواهد شد.

قابل تذکر است که با ترتیب چهارچوب انکشاف استراتیژیک (SDF) دورنمای انکشاف برای دو دهه ایجاد می‌گردد.

# کندوز ولایت کې له ۱۱۷۷ جریبو څخه زیاته دولتي ځمکه استرداد شوه

ښار جوړولو او ځمکو وزارت له غاصبینو څخه د ځمکو د خلاصون په لړ کې دا ځل د کندوز ولایت په خاناباد ولسوالۍ کې ۱۱۷۷ جریبه غصب شوې ځمکه د غاصبینو له منګولو خلاصه کړه.


دا ځمکه چې د کندز ولایت د خاناباد ولسوالۍ په بېلابېلو قریو کې موقعیت لري، له څو کلونو راهیسې د ځایي زورواکو تر شخصي استفادې لاندې وه.

ښار جوړولو او ځمکو وزارت په کندوز ولایت کې په ټولیز ډول تر اوسه ۱۵۳۳ جریبه دولتي ځمکه د ځایي زورواکو له منګولو خلاصه کړې او له دې ځمکې څخه یې د موثرې او معقولې استفادې لپاره زمینه هم برابره کړې ده.



# عبدالکریم: زما ارمان پوره شو؛ اوس که مړ هم شم تشویش نلرم

**لیکنه: حشمت ناصري**



۶۰ کلن عبدالکریم د کابل ښار د څلورمې ناحیې اوسیدونکی دی. نوموړی د کابل ښار په غیر رسمي سیمه کې له خپلو ۸ ماشومانو سره ژوند کوي.

دا چې څنګه عبدالکریم غیر رسمي سیمه ته کډه شو: «د نا امنۍ له امله کابل ښار ته کډه شوو او له ۱۸ کاله راهیسې دلته په غیر رسمي سیمه کې ژوند کوم.»

نوموړی په دې ۱۸ کلونو کې له راز راز ننګونو سره مخ وو: «پدې ۱۸ کلونو کې هیچا زموږ پوښتنه ونکړه، نه چا د ژوند اسانتیاوې راته برابرې کړې او نه یې د انسان په سترګه راته وکتل.»

عبدالکریم وایي چې د مجبوریت له امله غیر رسمي سیمه کې ځان ته یوه جونګړه جوړه کړې او د شته ستونزو سره سره خپله شپه او ورځ سبا کوي: «تل به دا ویره راسره وه چې یوه ورځ به زما کور رنګ شي او له خپلو ماشومانو سره دربه‌دره شم.»

څلور میاشتې مخکې نوموړی د خپل کور د ملکیت سند د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له خوا ترلاسه کړ. د سند در ترلاسه کولو پر مهال په سترګو کې یې اوښکې ډنډې وې: «حکومت نه یوازې په دې اقدام زما کور خوندي کړ بلکې زما کورنۍ یې له دربدرۍ وژغورله.»

عبدالکریم چې په سترګو کې یې اوښکې خو خوله یې له خندا ډکه وه: «زما یوازینی ارمان هم دا و چې یوه ورځ زما کور قانوني سند ترلاسه کړي اوس که مړ هم شم تشویش نلرم.»

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د حکومت د پالیسۍ سره سم دوه کاله وړاندې د غیر رسمي سیمو د رسمي کېدو لړۍ د هېواد په اته ښارونو (کابل، هرات، مزار شریف، قندهار، جلال آباد، فراه، بامیان او نیلي) کې پیل کړه او تر دې دمه یې ۸۰۰ زره غیر رسمي کورونه سروې او ثبت او نږدې ۳۰ کورونو ته د ملکیت سندونه توزیع کړي دي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ژمنه لري د غیر رسمي سیمو په رسمي کېدو او د ملکیت سند په وېش، غیر رسمي کورونه خوندي او د غیر رسمي سیمو اوسېدونکي له ښاري خدماتو څخه برخمن کړي.

# کار ساختمانی تعمیر سالون جلسات مقام ولایت قندهار تکمیل شد

وزارت شهرسازی و اراضی ساختمان اداری سالون جلسات ولایت قندهار را از طریق برنامه ملی تحکیم ثبات اعمار و به بهره برداری سپرد.

این ساختمان در مساحت ۷۱۲ متر مربع زمین به هزینه ۳۳ میلیون و ۲۳۲ هزار افغانی در دو منزل به طور پخته و اساسی اعمار شده است.

وزارت شهرسازی و اراضی با تطبیق پروژه‌های زیربنایی و اعمار تاسیسات عام‌المنفعه دولتی از طریق برنامه ملی تحکیم ثبات، حکومتداری محلی را در سطح کشور تقویت و از این رهگذر سطح عرضه خدمات اساسی را به مردم بالا می برد.




محترم محمود کرزی: سلسله مراتب باید جدی مدنظر بوده
و هیچ نوع شکایت و پامال سازی اصول و اخلاق دفتری
برایم قابل قبول نیست.
MUDL


محترم محمود کرزی: د نویو ښارګوټو جوړېدو اساسي موخې
اوسنیو ښارونو کې د نفوسو کمښل او د معیاري عامه
خدمتونو وړاندې کول دي.
MUDL


محترم محمود کرزی: ښاري سکټور اړوندو ادارو
په ځانګړې توګه ښاروالي ګانو سره به په ګډه او پوره همغږي
اوسنیو ښاري ستونزو ته رسېدنه کیږي.
MUDL


محترم محمود کرزی: تمام تلاش ما باید این باشد که
وزارت شهرسازی و اراضی را به یک وزارت متمرکز بر نتیجه گیری
از کار و عمل مبدل سازیم.
MUDL